# د خوشحال خان ختک د جهاندارۍ نظريه

## "دستارنامې" ته يوه مقايسوي او تحليلي کتنه

## او

## د اسلافو له آثارو سره ئې پرتله

د ۱۰۲۲ هـ د دوهمي خور په مياشت (مى ۱۶۱۳ م) د نورالدين جهانگير په پاچهي او د خټکو په اکوړه کښي د لنډي سيند پربښې غاړه ۳۵ ميله د پېښور شرقي خواته د ملک شهبازخان په کور کښي او د ملک اکوړي په لويه کولبه کښي يو هلک وزېږېد، چې پر هغه ئې "خوشحال" نوم کښېښودئ، وروسته لوى سړى سو، او په ۷۸ کال خپل عمر کښې د خيبر او اباسين تر منځ داسي جنگي او اولسي او ادبي او فکري چاري ئې تر سره کړې، چې دى حقاً د توري او قلم خاوند او د جنگ د ميدان پهلوان، او د پښتنو د استقلال مبارز او د يوه گټه ور او سالم فکري حرکت مؤسس گڼلای سو، دی په ۱۱۰۰ هـ تر جهان تېر سو، او د اکوړي جنوبي شرقي پلو ته په لوړه ايسوړي کښې ښخ دئ. خوشحال خان ښله کلياته چي بيتونه ئې شلو زرو ته رسيږي، نور ډېر منظوم او منثور کتابونه هم لري، او دده دغو ډېرو ښکلو آثارو

ته چي گورو نو دی د پښتو ژبي تر ټولو لوی د سبک خاوند شاعر او لیکوال او هم د (پښتو پلار) بللای سو.

د خوشحال خان یو مهم پښتو منثور کتاب "دستارنامه" ده، چي د ۱۰۷۶ ه کال د لومړی خور په اوولسمه ئې د هند د رن تمبهور په بندیخانه کښي هغه وخت لیکلې ده چي د اورنگزیب عالمگیر په حُکم هلته جلا وطنه بندي ؤ.

د دې کتاب په خاتمه کښي خوشحال خان لیکي : چي دا کتاب مي د دوستانو او یارانو او زامنو د گټي لپاره د هند په محبس کښي په داسي حال کښي ولیکلی چي هیڅ کتاب راسره نه ؤ، او ځکه چي له وطنه مي لیري د فراق په حال کښي لیکلی دئ نو ئې د ختم تاریخ دا پښتو مسری ده : " بس دی محنت د پښتانه" او ددغو کلماتو ابجدي ارزښت (۱۰۷۶ ه) کیږي.

خوشحال خان د پښتونخوا خوشنوا بلبل د هند په بېلتون کښي یوه (فراقنامه) ویلې وه، او په هغې کښي یو ذوالقافتین بیت داسي ؤ :

چي دستار تړي هزار دي
د دستار سړي په شمار دي

دستار نامه هم ددې بیت شرحه ده، چي یوه مقدمه او دوه بابه او یوه خاتمه لري، په مقدمه کښي د دستار اهمیت او قابلیت ښیي، لومړی باب د دستار بند شل هنره، او دوهم باب ئې شل خصلتونه بیانوي، خاتمه ئې د ناپوهی او حماقت علامات شرح کوي.

## د دستارنامې نثر او ظاهري ښېګړې :

خوشحال خان د دستارنامې په ليکنه کښې يو مهم کار کړئ او هغه داځ : چې ده د پښتو د نثر ليکلو کلک بنسټ په دې کتاب کښې په ساده او روان او د سهلو وړ نثر باندې ايښي دئ چې په نثر کښې د لزوم مالا يلزم په ناوړه پيښه ګرفتار نه سي.

دلته دا خبر د کړو وړه ده : د پښتو نثر لرغوني نمونه چې تر اوسه موږ پيدا کړې ده، د قندهار د ارغسان د سليمان ماکو د تذکره الاولياء يو څو پاڼې دي، چې د تاليف کال ئې ۶۱۲ هـ دئ. او دغه ليکوال داسې روان او روښانه بې تکلفه نثر ليکي چې د عربو يا درى ژبې د فني او مسجع نثر اغيزې ډيرې لرې پکښې ښکاري او دا څنې څرګنديږي چې د پښتو نثر د مغولو تر دورې د مخه لکه د درى ژبي د بلعمي او بيهقي او منهاج سراج جوزجاني او ګرديزي د نثرونو په څېر ساده، او روان نثر وُ، اوبې ځايه تکلف او تصنع نه پکښې ښکاريده، مګر کله چې د سلجوقيانو دوره آخرته رسېده او د هجرت شپږمه پېړۍ پيل کېده نو په درى ژبه کښې هم لکه عربي، فني او مصنوع مسجع نثر په خراسان کښې پيدا سوى وُ، چې د انصاري هروي په مناجاتو او د ابوالمعالي نصرالله غزنوي وزير په کليله او دمنه او د قاضي حميدالدين بلخي په مقامات حميدي، او بيا ئې په خورا کامل او پر تکلفه ډول د وصاف الحضره په تاريخ د ۷۰۰ ه شاوخوا کښې وينو.

د پښتو پر نثر هم دغه اغيزې سوي دي، او کله چې بايزيد روښان د ۹۷۰ ه په شاوخوا کښې خپل خيرالبيان ليکه په دغه کښې ټولي مسجعي او مصنوعي جملې استعمال کړې، او تر ده وروسته بيا اخوند درويزه ننګرهاري او نورو ليکوالو هم د دوي پېروي کوله مګر دلته بويه دا ووايو : چې د نثر ليکلو دغه مصنوعي شېوه په پښتو کښې کوم ادبي

او هنري ارزښت او ښایست نه لري، نو ځکه خوشحال خان چي د ذوق خاوند یو افغان لیکوال ؤ، د روښاني نثر لیکلو ناوړه طریقه ئې تکړه غوره، بلکي د نثر مخه ئې بیرته هغه قدیم جریان ته واړوله، او ځکه چي روښاني نثر ذوقاً کوم هنري ارزښت نه درلود، نو ئې خوشحال پیروي نه کوله، او خپله انتقادي نظریه د روښان او درویزه پر لیکوالي باندي په سوات نامه کښي داسي ښکاره کوي :

درویزه چي بیان کړئ خپل کتاب دئ
نوم ئې مخزن الاسلام کړی جناب دئ
هر بیان ئې ناموزون مجهول بې رنګه
خالي پاتو له دانشه له فرهنګه
که یوه مسرع په شل، بله په سل ده
نا مربوط ناموزونه په ویل ده
د روښان خیرالبیان ئې ؤ لیدلئ
هغه هم مجهول بیان ؤ ناپسندلئ
ده چي خوشي میدان بیا موند سخنګوی سو
په ویل کي ئې چي زړه وو، هسي توی سو

خوشحال خان د دغه انتقادي او هنري نظره سره میدان ته راغی، او د روښان ببخونده او ناوړه نثر ئې پرېښو، خپل ادبي رسالت ئې د پښتو د نثر په نوی بنیان ګذاری کي هم اداء کړ، او په دستارنامه کښې یوه خواږه او روان نثر لیکلو ته هڅه وکړه چي د پښتو ژبي له اصلي بنسټ اوساختمانه سره سم وي.

## د کتاب نوم او موضوع یا د خوشحال خان د جهانداری نظریه :

خوشحال خان د افغاني دودونو سره سم دستار د انسان د لیاقت او استعداد سمبول گني، او بگړی د اداري او اجتماعي ښېگړي د قوت لپاره یو تعبیر بولي، ځکه کله چي د افغانانو زامن د رشد او میړاني حد ته ورسیږي، نو بگړی ور پر سر کوي، او دا نو ددې خبر علامه وي، چي اوس نو هغه زلمی په ټولو اجتماعي او ملي او د کورنۍ په مسئولیتونو کښي برخه لري.

خوشحال خان د درستارنامې په مقدمه کښي وایي : چي ډېر هنرونه او خصلتونه یوه دستاربند ته ضروري دي او که څوک هغه صفات او ښېگړي نه لري، د دستاربندی لایق به نه وي. دی شل هنرونه او شل خصلتونه په دستارنامه کښي راښیي او وایي که څوک دغه صفتونه ولري، نو د "مېړه" اطلاق پر کیږي او د بگړی خاوند کېدای سي او د حکم او لارښووني حق به لري.

خوشحال خان د هنر او خصلت فرق داسي کوي : هغه څه چي په زده کړه او تعلیم لاس ته راځي هنر او کسب او فن دئ. او بیا دغه هنرونه د استحباب او وجوب مرتبې لري، او دی د کتاب په لومړي باب کښي دغه شل هنرونه بیانوي :

۱. د ځان پېژندلو هنر
۲. د علم او کارموندنه
۳. د خط هنر
۴. د شعر هنر
۵. د غشي ویشتلوهنر

۶. د اوبازۍ هنر
۷. د آس سپارلۍ هنر
۸. د ښکار هنر
۹. د شجاعت هنر
۱۰. د سخاوت هنر
۱۱. د ازدواج او معاشرت هنر
۱۲. د اولاد روزنه
۱۳. د خدمتګارانو او لښکرو د تاديب هنر
۱۴. د معيشت سمولو هنر
۱۵. د زراعت او دهقانۍ هنر
۱۶. د تجارت هنر
۱۷. د تحقيق نسب هنر
۱۸. د موسيقۍ هنر
۱۹. د نرد او شطرنج هنر
۲۰. د مصورۍ او نقاشۍ هنر

اما شل خصلتونه چي د دستارنامې په دوهم باب کښي ښوول سوي دي ، هغه دادي :

۱. مشورت
۲. عزيمت
۳. خاموشي
۴. راستي
۵. شرم او حيا
۶. نيک خوي
۷. مروت

۸. عفو او کرم
۹. تمييز
۱۰. عدل او انصاف
۱۱. توکل
۱۲. د پرورښت او نمانځلو استعمال پر خپل ځای
۱۳. خوف او رجاء
۱۴. د مملکت انتظام
۱۵. همت
۱۶. حلم
۱۷. غيرت
۱۸. حزم او احتياط
۱۹. طاعت او تقوی
۲۰. استغفار

## د شرق په ادب کښې ددې موضوع سوابق :

د افغانستان خلکو له پخوانی زمانې څخه د جهانداری او قيادت او د ملک د ادارې لپاره اصول او خاص عنعنات لرله، او دغه روايات په دوی کښې د بلخ او کابل او سيستان او نورو ځايو له شاهي خاندانونو څخه پاته سوي وو، که څه هم اوس موږ له هغو څخه کوم تفصيل نه سو ورکولای، مگر کله کله د مؤرخانو په نوشتو کښې ځينې دلچسپې نکتې ليدلي کيږي. مثلاً : هيون تسنگ چينی زاير چې په نهم هجري کال دلته راغلی، او تر ۲۴ هـ پورې ئې ددې ځای دربارونه او حُکمرانان او د ادارې طرز ليدلی ؤ، دی وايي چې دلته اداري منظم

تشکیلات او مالي او لښکري اداري او حاکمان او قاضیان او دولتي کارداران سته، دغسي هم طبري د اسلامي دورې ستر مؤرخ لیکي : په ۱۲۰ ه کال د هرات دهقان (حُکمران) د امویانو د حاکم اسد بن عبدالله د بلخ دربار ته راغی، اود مهرګان د جشن په ورځ ئې د بلخ په دربار کښي وینا وکړه، ده په دغه وینا کښي وویله چي : د بري او حکومت لپاره درې خویونه ډېر لازم دي :

۱. درناوي
۲. هوښیاري
۳. بردباري (طبري ۵ – ۴۶۵)

دغسي هم البلاذري پخواني عربي مؤرخ په فتوح البلدان کښي (ص ۴۹۳) لیکي، چي د زابلستان یوه رتبیل به په خپل عهد و وفا، درناوي او کلکه اداره او د زحمتونو ګالل، د جهانداری په چارو کښي تر آراسته او ښکلي ظاهر، ډېر ضروري ګڼل، او د اموي دورې پر اموي حُکمرانانو به ئې انتقاد کاوه، چي دوي ولي د لومړنیو مسلمانانو په ډول دغسي خویونه نه لري؟ او دا خبره د رتبیلانو د جهانداری نظریه په ښه ډول ښکاره کولای سي.

په خراسان کښي د زردشتي دین پیروان هم اوسېدل، دوي د داسي لرغوني ثقافت او لوړو اداري او سیاسي افکارو خاوندان وو، چي عربي حُکمرانانو به هم له دوی څخه پندونه زده کول، مثلاً په ۶۴ هـ کال یو پوه مجوسي متکلم په سیستان کښي ژوند کاوه، چي نوم ئې رستم بن مهر هرمزد ؤ، د تاریخ سیستان مؤلف وایي چي : د سیستان عربي حُکمران به هم له ده څخه په اداري سیاست او د جهانداری په اصولو کښي پندونه اورېدل، اوتل به ئې پوښتني څني کولې. نو دغه تاریخي روایتونه دا خبره ثابتوي چي ددې مځکي خلکو په اداره

اوسياست او اجتماعي اخلاقو او جهانداري کښي ځيني پاخه اصول او فکرونه درلودل.

اما د عربو فاتحان چي د هجرت په لومړۍ پېړۍ کښي د عراق له لاري خراسان ته راغلل، دوي د ژوندانه ساده قبيلوي مبادي لرله، خو په لاره کښي ئې د ساساني کورنۍ دولتي سازمان او اداري تشکيلات چي څو پېړۍ پر تيري سوي وې، هم ليدلي وُ، او په اداره او د جهاندارۍ په جوړښت او دولتي لارو چارو کښې له هغو څخه ډېر شيان زده کړي وُ، او کله چي په ۱۳۲ هـ کال = ۷۴۹ م د بغداد د عباسيانو دولت د ابومسلم خراساني په سعيه تاسيس سو، نو د خراسان ډېر فکري او مدني عناصر د آل عباس دولتي سازمان ته ورننوتل، چي وروسته له دغه سياسي او فکري نفوذه څخه د خلافت عربي په سازمان کښي د خراسان دلويو لويو خلکو او کورنيو لاسونو هم کار کاوه، او د شرق او غرب له خوا د افکارو او ثقافي عناصرو انتقال هم عربي دنيا ته شروع سوی وُ، او د آريايي او رومي او مصري او يوناني افکارو او مدني رواياتو يوه عظيمه ذخيره هم د ترجمې يا اورېدو له خوا د عباسي خلافت، فکري مرکزونو ته رانقل سوي وه، چي دلته په خورا لنډ ډول ياديږي:

__اول__: لومړی مولف چي په دغو وختو کښي د سياست او جهاندارۍ په باب کښي خبري وکړې يو پوه نو مسلمانه زردشتي وُ، چي روزبه بن داذوبه نومېدئ، په ابن مقفع مشهور وُ او په ۱۴۵ هـ کال مړ کړ سو، ده خدای نامه او دجهاندارۍ آيين نامه له پهلوي څخه په عربي ترجمه کړې او د ادب الکبير او ادب الصغير کتابونه ئې په عربي وکښل چي دغه کتابونه د جهاندارۍ اصول او د اجتماعي اخلاقو لاري چاري بيانوي، او مخصوصاً يوا دده يوه "رساله الصحابه" د خليفه منصور عباسي لپاره ليکلې سوې ده، چي د خلفاوُ او واليانو او وزيرانو لپاره د

مملکت د نظام او عدالت او لښکرو د تيارولو، او د اعلان جنګ او د روغي د شرطونو، او د لښکرو د جلب او قيادت او ماليـاتو او د ثقافـت او اخلاقو دروزني په باب کښي ښه هدايات لري، دی د خراج او مالياتو اوقضا قوانين ليکي، او د قاضيانو د خودسری د بندولو لپاره د قضا ديوه خاص قانون پيشنهاد کوي.

د ابن مقفع په دغو بندونو او هدايتونو کښي د آريايي ثقافت او ارستوکراسی قديمه روحيه ښکاري، او داسي ځني څرګنديږي چي دلته دوه سامي او آريايي ثقافتونه سره ګډيږي. مګر دده په ټولو کتابو کښي د ديني تلقين اثر نه ښکاري هرڅه چي وايي د لرغوني آريايي فکر او ثقافت ښکارندوي دي، چي هم له دې سببه د الحاد او زنديقيت په تهمت وواژه سو، ده د عجمي فرهنګ ډېر عناصر د عربو په فکر او ادب او سياست او اداره او معيشت ورننه ايستل.

تر ابن مقفع وروسته ابو عثمان عمروبن بحر چي په جاحظ نومړی دٔ (۱۶۳ – ۲۵۵ ه) په کتاب البيان والبيين او کتاب الحيوان کښي او ابن تتيبه عبدالله بن مسلم مروي خراساني (۲۱۳ – ۲۷۶ ه) په عيون الاخبار کښي او ابوحنيفه احمد دينوری (متوفي ۲۸۲ ه) په اخبار الطول کښي د يوه ګډ او ممزوج ثقافت ممثلان دي چي عربي او اسلامي فرهنګ له عجمي او يوناني او هندي اوغېزو سره ګډ سويدی، او د دوي په آثارو کښي د جهانداری او قيادت او اخلاقو او ثقافت ډېر مواد سته، او په اسلامي دنيا کښي يو ممزوج او مرکب فرهنګ رواج کړ چي وروسته د قاضي القضاه علی بن محمد الماوردی ( ۳۶۴ – ۴۵۰ هـ) په ادب الدنيا والدين او نصيحه الملوک او د حکومتي سياست په تسهيل النظر ، او قانون الوزاره او سياسه الملک او احکام السلطانيه او دده په نورو کتابو کښي د جهانداری لپاره ډېري فرهنګي چاری او لاربښووني سته، او د

عبدالرحمن اربلی سیر الملوك او د حسين بن عبدالله ترتيب الدول هم دغه چاري په ډول ډول څېړي، او دا ښکاره کوي چې دلته نو اسلامي مدنيت او فکر پوخ سوئ، او عربي فکر د نورو لرغونيو ملتو د فرهنګي موادو په ګډون سره ډېر تکړه او ښتلی سوی و.

<u>دوهم</u> : د خراسان او شاوخوا خلکو خو لرغوني ثقافي عنعنات درلودل اود ۲۰۵ ه کال په شاوخوا کښي دوي بريالي سوه، چي د ځان لپاره د حکومت يوخپلواك سازمان بيا مومي. دلته نو له پوشنګه طاهريان – له بلخه سامانيان – له غزني څخه آل ناصر – له ملتانه لوديان – له جوزجانه آل فريغون – له غرستانه شاران – له سيستانه صفاريان او هم له هرى ګوښې څخه نور محلي حُکمرانان راووتل، او له عربو څخه ئې اختيارات خپلو لاسو ته راوستل، دوی خپل لرغوني موروث سياسي او اداری جوړښتونه او د جهانداری ډولونه د بغداد د عباسيانو له ممزوجو او ګډو نظامو څخه بشپړ کړل، چي هغه هم د يوناني کتابو د ترجمې له خوا لاس ته ورغلي وو، او اوس نو موږ وينو چي ددغي زمانې د اجتماعي پوهانو په ليکنو کښي دري غټ توکي ښکاريږي :

۱. د لرغوني خراساني فکر پاتيشونکی
۲. د اسلامي فقه او اخلاقو اغيزې
۳. هغه مواد چي د يوناني پوهانو په خاصه توګه بيا د ارسطو د اخلاقي فلسفې له کتابو څخه د بغداد د عباسيانو په ثقافت او مدنيت کښي ور ننوتلي وو چي د دغسي کتابو قديمترينه نمونه د خراسان د ستر پوهاند ابو نصر محمد فارابي (۲۶۰ – ۳۳۹ هـ) کتابونه السياسه المدينه ، آراء اهل المدينه الفاضله، آداب الملوکيه دي چي ده ديني او سماوي مبادي په معيشي چارو کښي د ارسطو له مدني فلسفې سره نژدې کړل او د مدينه فاضله د مشر خصلتونه

ئې وټاكل، دى وايي : " په هغه ډول چي بالطبع عضو رئيس په بدن كښي تر ټولو غړو كاملتر وي، دغسي هم د مدينه فاضله مشر، د هغه ښار د اوسېدونكو كاملتر فرد وي، او د فاضل ښار د رياست صنعت هم د ولس شرطه لري :

١. د اعضاوو سلامتي
٢. د فهم جودت
٣. د حافظې قوت
۴. فطانت
۵. د ژبي طلاقت
۶. د زده كړي مينه
٧. په خوړنګ او جښنګ او منكوح كښي به سرانښ نه وي.
٨. رښتيا به ئې خوښ وي
٩. د نفس لوړي
١٠. د عدل مينه
١١. په دنيوي اعراضو او پيسو پوري زړه نه تړل
١٢. د ارادې قوت ( ص ٨۶ آراء اهل المدينه )

په دغو خبرو كښي د خراسان بل څېړونكي محمد بن يوسف هروي نشاپوري مشهور په ابن ابى ذرعامرى دئ، ( متوفي ٣٨١ ه) چي يو كتاب ئې د السعادة والاسعاد په نامه ليكلى او په هغه كښې پراخلاقو او د سياست پر قوانينو او د روزني پر اصولو او د تدبير منزل او د جهاندارۍ پر لارو چارو پداسي ډول څېړنه وكړه، چي د انسان د خوشبختۍ او د نورو د خوشبخته كولو لپاره كار ځني واخلي. ده دغه تدبيرونه اواسلوبونه د افلاطون او ارسطو د يوناني كتابو له ترجمې او

د نورو يوناني حكيمانو له ويناوو څخه راواخيستل. اود ايران ، هند، عرب، او د اسلام د مشرانو اقوال ئې پر زيات كړل.

چي دده دغه كتاب د خراسان د خلكو د څلرم قرن د فكر او فرهنګ ښه ښكارندوى دي. دى يوناني فلسفه له اسلامي شريعته سره تطبيق كوي. او څكه چي دى د ابوزيد بلخي شاګرد وُ، نو مونږ دا وايو چي عامري هروى هم د بلخ د پوهني له روڼه مشاله څخه نور اخيستى وُ.

عامرى په دغه خپل كتاب كښي چي د هغه وخت د اجتماعي افكارو او د سياست مدن او اخلاقو يو كوچنى دائرة المعارف دئ داسي وايي : چي د نورو خوشبخته كول او اسعاد په هغه سياست پوري اړه لري چي مساس سعادت ته ورسوي، اوسياست وال بايد پخپل سياست كښي ښه دې بل مقصد ونه لري. چي اهل مدينه يعني د ملك اوسېدونكي حيواني ښېګړو يعني روغتيا ، ښكلا، مالي سهولت ته ورسوي اوهم انساني او آلهي ښېګړي له عفت، حكمت، عدل ددوي نصيب كي. (ص ۱۷۴)

عامرى سياست پر درې برخي ويشي :

لومړى : هغه صفتونه چي د خلكو د ښېګړو لپاره بايد دسايس په نفس كښي وي.

دوهم : هغه صفتونه چي مساس يعني خلك ئې بايد ولري.

دريم : هغه شيان چي مشر او سايس د خلكو د كارو د سموني لپاره هغوته اړ دئ. وروسته نو سياست پر درو څانګو ويشي، چي هره څانګه اوه برخي لري، او ټوله (۲۱) صفتونه كيږي او هغه دادي :

هغه صفتونه چې سايس ئې بايد ولري :

۱. د نفس قوام
۲. د سياست د سننو رعايت
۳. حزم
۴. دحزم ډولونه او قوانين
۵. رفق او احسان
۶. عنف
۷. د ښمنانو د ضرر دفع

د مساس صفات :

۱. مسنون توليد
۲. روزنه
۳. ماينه کول او واده کول
۴. د ښځو تهذيب
۵. د صنعت کارانو تهذيب
۶. په مالونو کښي اجتماعي اقتصاد
۷. د ملك د ساتونکو تاديب.

اما د سايس اداری ضروريات دادي :

۱. د کاردارانو غوره کول
۲. د غوره سوو کاردارانو صفات
۳. د کاردارانو قوانين او آداب
۴. مشاور او وزير ته ضرورت

۵. د مشاور او وزير صفتونه
۶. د غوره کولو اصول
۷. د مشورې قوانين او دستورونه (ص ۲۷۴)

چي دې ډول د السعاده والاسعاد کتاب د جهانداري اواجتماعي ژوندانه ټول اصول په يوه فاضله مدينه کښي د فاضل او حکيم سياست مدار تر قيادت لاندي شرح کوي او دا کتاب په خپل ډول کښي ډېر ګټه ور او جامع او مانع شمېرل کيږي، چي د هغه وخت د پوهانو اجتماعي مفکورې او د خلکو تصورات، داداري او سياست په کارو کښي ښکاره کوي، او د يوې مسعودي او آرامي ټولني د جوړښت لپاره دخراسان د خلکو د افکارو ښکارندوي دی. او د بيان ډول ئې هم پر متوديک تحليل او منطقي تسلسل ولاړ دی، چي دغسي بيان د عادي ليکوالو سره نه وي.

*دريم* : بل مهم کتاب چي د دری ژبي د نثر شهکار او د موضوع له پلوه هم خوږ او وړ بلل کيږي د امير عنصر المعالي کيکاوس بن اسکندر بن قابوس بن وشمګير بن زيار قابوسنامه ده چي دی د آل زيار يو شهزاده وُ، او په (۴۱۲ هـ) زېږېدلئ دئ دا کتاب ئې خپل زوی ګيلانشاه ته ليکلئ دئ چي ددې امير زاده مور د سلطان محمود غزنوي لور وه، او قابوسنامه په يوه داسي چاپېر کښي وليکله سوه چي په خراسان کښي د پاچهي د آدابو قديم مرکز وُ، مګر موٌلف خپل زوی ته داسي خبري کوي، چي مراد ئې پاچا کېدل نه بلکي د جامعې يو سالم او ګټه ور عضو کېدل دي. او دا کتاب ۴۴ بابه، يوه خطبه او يو خاتمه لري، او امير کيکاوس چي يو سپاهي او دانشمند او باذوقه نيکخويه مسلمان وُ، په رښتيا خبرو او په ښکاره بيان خپل زوی ته

نصيحتونه کوي او په ۴۷۵ ه کال ئې دا کتاب ليکلی دی.

*ثلرم* : لږ څه وروسته د امام ابـو حامـد محمـد غزالـي طوسـي (۴۵۰ – ۵۰۵ ه) دوره را رسيږي، چي دی عـالم او فيلسـوف او صـوفي سړی و او پخپلو کتابو کښې سياسي خاصه فلسفه روزلې ده، او داسـي يو مفکوره وړاندي کوي چي د تصوف او اشـراق د خراسـاني مدرسـې فکرونه ئې د اسلامي احکامو سره تطبيق کړيـدي، عزالـي سياسـت د خلکو د صلاح او تاليف لومړی وسيله ګڼي، چـي هـم پـر ظـاهرهم پـر باطن اثر کوي، او د دين او دنيا سـعادت د خلکـو نصـيب کـوي، دی وايي چي د آخرت سعادت پر دين ولاړ دئ، او دين هم پـه دنيـا پـوري اړه لري، او د دنيا دکارو نظم هم په سـلطان او دده پـه سياسـت پـوري تړلی دئ، نو د يوه سياست مدار امام وجود هـم شـرعي ضـرورت دی (الاقتصاد في الاعتقاد ۱۰۵) عزالي عدل او انصاف د سياست سـره لازم بولي، اويو کتاب ئې د عدل د اصولو په بيان کښې د نصيحه الملـوک په نامه په دری ليکلی دی، چي علی بـن مبـارک (متـوفي ۵۹۵ هـ) د "التبر المسبوک فی نصيحه الملوک" په نامه عربی کړی دئ غزالـي پـه دې کتاب کښې د عدالت د قيام لس اصله داسي ښيي :

۱. د ولايت په اهميت پوهېدل
۲. له صالح عالم څخه استعانت
۳. د خان او ټولو کاردارانو د ظلم دفع کول
۴. تکبر نه کول
۵. ټول هغه شيان چي پر خان نه خوښوي، پر نورو ئې هم پېرزو ونه لري
۶. د محتاجانو اړتياوي پر ځای کول
۷. په شهواتو کښي قناعت لرل

۸. رفق او نرمي
۹. په دې کښې به زيار کاږئ چې خلك د شريعت سره برابـر لـه ده څخه خوښ وي
۱۰. قانون بايد حـاکم وي او د شـريعته مخـالف د چـا خـوښي ونـه غوښتله سي.

غزالي د يوه مشر د امامت لپاره شپږ صفتبه لازم بولي چې په کسـب نه پيدا کيږي :

۱. بلوغ
۲. عقل
۳. حريت
۴. نروالی
۵. قريشي نسب
۶. د سترگو او غوږو سلامتي.

او دغه څلور اکتسابي صفتونه هم ورته ضروري دي :

۱. شجاعت او عدت
۲. کفايت
۳. علم
۴. پرهېزگاري

غزالي لږ تر لږه دغه لس صـفته د مطـاع امـام لپـاره پخپـل کتـاب المتظهری کښي (ص ۶۷) لازم گڼي، او د باطنيانو رد کوي، چې دوی امامت منصوص بولي. داسي ښکاري چې امام په سياسـت کښـي خپـل

خاص مذهب لري او هر ځای وایي : "ومذهبنا فی الامامه" د امام په وخت کښي د بغداد عباسي خلافت ډېر بې سېکه او خوار ځواکی سوی وُ او سلجوقیانو د خلافت پر اکثرو شرقي مځکو باندي قبضه کړې وه، امام هم دغه اوضاع په ستر گو لیدل چي یو عجمي قوم تسلط پیدا کړیدئ، نو ده دلته په امامت کښي خاص نظر او مذهب درلود او د امام مطاع لپاره ئې ډېر لږ شرایط ښوول، چي دغه اسلامي دنیا له یوه شرعي امامه څخه خالي نه وي.

نو په دغه ډول غزالي یو مفکر دئ، چي بیان ئې په منطقي څېر ښکاري، او یو متد هم لري، دی سیاست د هغه وخت د مختلفو عواملو تر اثر لاندي تجزیه کوي یعني د خپلي زمانې اسلامي دولت د دین او عصري تجربې د ارستوکراسی او روحي عناصرو، او د ملوکیت طوایف تر اغیزو لاندي ږدي، بیا نو د هغه کیفیت په منطقي او مستدل ډول ټاکي.

پنځم : د امام غزالي په دغه عصر کښي خواجه نظام الملک حسن بن علی طوسي د سلجوقیانو لوي وزیر په ۴۸۵ هـ کال خپله سیاست نامه یا سیرالملوک هم تیار کړ چي بیا نو د ۵۰۰ هـ په حدودو کښي محمد مغربي دغه کتاب په نهایي ډول ترتیب کړ. د کتاب انشاء ډېره خوږه او روانه او دری ده ، ۵۱ فصله لري او اکثره ئې د جهانداری لپاره و پادشاه ته ښووني او پندونه دي. چي ډېر مطلبونه په حکایاتو سره مدلل کوي، او ډېري گټوري تاریخي نکتې هم پکښي بیانوي. مگر د خواجه دغه کتاب یو خاص متد و مفکوره نه لري، اود فارابي، عامري هروي یا غزالي غوندي د یوه خاص روش او متد خاوند نه دئ، دی د خپل سلف قابوسنامې سره هم برابري نه لري ځکه چي د خواجه مقصد د پادشاه لارښوونه او دده د مقام ټینگول دي، حال دا چي قابوسنامه

غوارې چي د جامعې يو سالم او ګټه ور فرد څنګه جوړېدای سي. مګر سياست نامه د ابن مقفع له "رساله الصحابه" سره شباهت نه لري، خو لږ فرق ئې دا دئ چي په سياست نامه کښې د وروستنيو زمانو مثالونه او حکايتونه او د زمانې د نوو تجربو نمونې هم راغلي دي. مګر هدف او غايه ئې هغه د ابن مقفع په څېر، د يوه مطلق ارستوکراسی سازمان تقويه وه، خو غزالي هم دغه کار د يوه منطقي روش په سيوري کښي کوي، چي د روحانيت او دين او فلسفې په امتزاج ئې خپل مقصد نرم او ملايم کړی دی.

## د دستارنامې د جهانداری د نظريې پرتله د شرقي پوهانو له افکارو سره :

اوس نو موږ څو چي د دستارنامې مطالب له دغو کتابو سره چي لوړ مو ياد کړل پرتله کو : خو شحال خان په داسي عصر کښي ژوند کاوه، چي د پخوانو خلکو فکري مواريث حتماً دده پر فکر او تصوراتو باندي اثر کوونکی وُ، او بنايي چي په ځينو خبرو کښي به دده او نورو تر منځ فکري توارد هم پېښ سوئ وي. دی پخپله وايي :

" دستارنامه مي د هند په زندان کښي په داسي وخت ليکلې ده، چي هيڅ کتاب او ماخذ مي نه درلود" خو سره ددې هم د خوشحال خان ذهني محفوظات له عربي او دری ادبه څخه دوني وُ چي ډېر ځلي عربي يا دری اشعار او مقولات، او هم کله کله قرآني آيتونه او احاديث د سند په توګه راوړي، او په ټول کتاب کښي ۱۷۰ فارسي بيتونه او ۲۵ مصرعه او ۵۷ مقولې او آيتونه او حديثونه سته.

د دستارنامې ځیني فصلونه له قابوسنامې او سیاست نامې سره موافق دي، لکه : شعر، ښکار، د اولاد روزنه، علم، تجارت، زراعت، کتابت، موسیقي، نرد او شطرنج فصلونه چي په قابوسنامه کښي هم سته، مگر د مشاورې، عدل، او انصاف، ترتیب خدم وحشم، خوف ورجا بحثونه ئې له سیاست نامې سره برابر دي، خو د دستارنامې د تحقیق انساب او خصایلو فصلونه د ابن مقفع او ماوردي او جاحظ او غزالي له کتابو سره شباهت لري، او ځیني فصلونه ئې هم د خوشحال خان ابتکار دی، لکه : اوبازي، خانداني روابط، ازدواج، د آسونو سپارلي.

نو د خوشحال خان د جهانداری نظریه، د آیدیل دستاربند او مشر لپاره یوه ممزوجه مرکبه مفکوره ده، چي د پښتنوالي، اسلام، انساني اخلاقو پر اساس د یوه متد په ډول د ملوکي طوایف د کوم معتدل نظام لپاره جوړه سوې ده، او د ځان پېژندنه، پوهه، د جهانداری هنرونه او نیک انساني خصلتونه، مشورت، د عدل رعایت، اجتماعي تقوا، ځوانمردي، رښتیا، او نور ښه صفتونه ئې اساسي بنیادونه گڼل کیږي، او اصلي غایه او موخه ئې دا ده، چي د ملوک طوایف او ارستوکراسی په سیوري کښي یو داسي افغان او د ښو اخلاقو خاوند دستار بند پیدا کی، چي اجتماعي شرایطو او اقتصادي چاپېر ئې انتظار کاوه، او پخپله خوشحال خان هم یو دغسي دستاربند مشر په افغاني نظام کښي غوښت.

مگر ده تل د پردو د قوي او زلند ملوکیت سره چي انسان به ئې د مریي په توگه استثمار کاوه، سخته مبارزه کوله، اوعمرونه هم په دغه فکري او عملي جگړه کښي نښتي وُ، افغانان ئې دغي مبارزې ته رابلل او د ډهلي ستمگره امپراطوري ئې داسي غندله :

دا چي خانان دي یا امراګان دي
په هند کي ګرزي په هر مکان دي
غوښي هډونه د مظلومانو خوري
زما تر فهم واړه د دان دي

د عربي لیکوالو او پوهانو لکه ابن مقفع او جاحظ موخه دا وه : چي یو ارستوکراسي او د ملوکي طوایف معقول نظام د فلسفې او لرغوني روایاتو او اسلامي احکامو سره برابر قایم کي.

مګر د خراسان پوهانو لکه فارابي او هروي یوه مسعوده جامعه او مدینه فاضله جوړوله، چي د ارسطو له فلسفي ښوونو، او لرغونیو روایاتو او اسلامي شریعت سره برابره او د یوه فاضل او حکیم مشر تر قیادت لاندي وي. اما نظام الملک یو ارستوکراسي د ملوکیت نظام په دې ډول تقویه کاوه، چي د اسلافو له روایاتو اوتجربو څخه ګټه واخلي، او هم له اسلامي روحیې سره موافق وي.

مګر غزالي یو خاص ترتیب او متد لاره، چي دغه د نظام الملک مقصد ئې د روحي او دیني او فلسفي منطق په وسیله پر پښو ودراوه خو هغه لار چي خوشحال خان په دستارنامه کښي ټاکلې ده، د افغانانو د هغه وخت له ژوندانه او طرز تفکره سره بالکل نږدې وه، او د عمل او افادیت خوا ئې قوي وه، او څکه چي دی په دغه کار کي د تجربې اوعمل خاوند ؤ، نو ئې څکه د یوه افغان مشر لپاره لار ښه ټاکلای سوای.

## د خوشحال خان د جهاندارۍ نظريه او ميكاولي :

تر خوشحال خان سل كاله دمخه د اروپا د فكر او تمدن په يوه مركز يعني ايتاليا كښي يو سياستمدار، مؤرخ او فيلسوف او سياسي ليكوال د ميكاولي Machiavelli ( ۸۷۴ - ۹۳۴ ھ = ۱۴۶۹ - ۱۵۲۷ ع) په نامه پيدا سو، چي د ايتاليا د رسانس د دورې د نثر ليكوونكي په سر كښي درېږي، او د مطلقي جهاندارۍ يوه نظريه ئې وړاندي كړه چي د "نوی استبداد" په نامه مشهوره ده.

ميكاولي يو كتاب د شهزاده يعني زمامدار په نامه ليكلی او دغه نظريه ئې پكښي روزلې ده. دغه كتاب او مؤلف ئې له دوه پلوه د خوشحال خان سره شباهت لري :

اول دا چي خوشحال خان دستارنامه د هند په منفا كښي وليكله، او ميكاولي هم خپل كتاب په تبعيد ځای كښي كښلي ؤ.

د ميكاولی اوخوشحال خان د فكري مكتب مشترك ټكي دادي : چي ميكاولي خو يوازي زمامدار د كشور او اخلاقو او دين او اقتصاد او ټولو شيانو معمار ګڼي، او غواړي چي په مطلق ډول اقتدار وسائل سي، او په دغه لار كښي هيڅ ډول اخلاقي يا ديني شرايط نه مني. حقوق او قانون هم د زمامدار له اداري څخه راوتلي شيان ګڼي او د هغې ارادې اطاعت هم واجب بولي، او وايي چي اخلاق هم د زمامدارۍ له وضع كړي قانونه څخه راوزي.

خوشحال خان هم خپل دستاربند جهاندار او مشر په دغه ډول لكه د ميكاولي زمامدار ، د اقتدار يو مظهر ګڼي، مګر فرق ئې دادی، چي دی ځيني ديني اواخلاقي ارزښتونه هم دخپلي جهاندارۍ په نظريه

کښي د خیل بولي، یعني میکاولي د اقتدار په ساتنه او د سیاسي موفقیت په لاره کښي هیڅ قید او شرط نه مني، اوهدف ئې پخپله اقتدار دی، خو خوشحال خان هم خپل دستاربند شخصیت ددغه اقتدار یو ښکارندوی اوساتونکی بولي، د اقتدار حصول او ساتنه بې قیده نه ګڼي بلکه مشروطه ئې شمېري.

نو د میکاولي اقتدار مطلق او نامقید دی، اما د خوشحال خان اقتدار مشروطه دئ، خوشحال خان هم دغسي فکر کوي لکه میکاولي.

مګر دی یو افغان او مسلمان او د پښتنوالي او مسلمانۍ او اجتماعي تقوا په قیودو مقید زمامدار غواړي چي په خپل اجتماعي لیاقت د پښتنو دستاربند سي، او د ظلم او اجنبي استعمار ریښي ور وکاږي، او دا هغه لویي دعوې دي چي خوشحال خان پخپله هم په زړه کښي درلودې او د اورنګ له استعماره سره ئې دغري وهلې (۱) :

که په دا دور مي ګورې هغه زه یم
چي مي داغ په خاطر ایښي د اورنګ دئ
ځیني زه لویي دعوې لرم په زړه کښي
ولي څه کړم چي پښتون واړه بې ننګ دئ
لا تراوسه ئې ماغزه په قرار نه دي
چا چي ما سره وهلی سر په سنګ دئ

(۱) ننګیالی پښتون، ۱۳۴۵ لمریز کال چاپ کابل، ص ۱.